# The Charter of Café Mondial Konstanz e.V. – *The Art of Diversity* ***د کافی مونډیال منشور***

Every human has abilities,
is capable of self-determination,
and is the absolute sovereign of our time.
[…] Where he unfolds his abilities,
he is an artist.“ (Joseph Beuys)
هر انسان لیاقت لری، خپل سرنوشت په خپله ټاکلی شی، او په مکمل ډول زمونګ د وخت پاچا او سردار دی.
چرته چی هغه خپل لیاقت شکاره کوی ، هغه یو هنرمند دی ( جوزف بیوس)

**د کافی مونډیال په باره کی:**

کافی مونډیال د ملاقات ځای دی چرته چی د ډیر وخت راهسی د کونستانز اوسیدونکی اود ښار نوی اوسیدونکی سره راټولیږی او یو بل سره پیژندګلوی کوی.

زمونږ کافی یو غیرتجارتی ده او خلک په اسانۍ سره ورته لاس رسی لری.

دا یو عمومی غونډه ده چی دوستان او ګاونډیان سره راغونډیږی د کلتورنو د پوهیدو په خاطر.

کافی مونډیال هغه ځای دی چرته چی نوی خلک او مهاجرپه کونستانز کی پیدا کولۍ شی او پیژندلی شی ، خبری ورسره کولۍ شی ، او مرسته ورسره کولۍ شی.

کافی مونډیال یوه کړنلاره او شالید تیاروی، په سیمه کی مختلفو ګروپونو سره همکاری کوی او د هغوئ سره د هغوئ د هدفونو د درک کولو او پوهیدلو په باره کی کومک کوی.

کافی مونډیال یو هنری کار دی، دا یو پروسه ده چی د ټولو برخه والو په واسطه چلیږی، هر یو برخوال په دی کی فعال وی، نو ددی لپاره چی خپله ټولنه بانفوذه او غنی کړو.

ټول هغه برخوال چی زمونږ په رضاکارانه انجمن کی په پلان ، پرمختګ او روزمره کارونو کی برخه اخلی نو کولی شی چی د ټولنیزو واقعیتونو برخه وی د کوم لپاره چی کافی مونډیال میلان او اراده لری چی د ( کلتورونو د ښه راغلاست) نظریه ډکه کړی.

**د منشور په هکله:**

ددی منشور هدف یو عملی اقدام او بنیاد رامنځ ته کول دی، دا منشور کافی مونډیال او غړو ته لاښوونه کوی چی خپل هدف د لاسه ورنکړی. دا په خپله یو ارزښتناکه مفکوره ده . د کافی مونډیال عمل ، داخلی او خارجی پروسه یی باید ددی منشور په واسطه هم غړی او تطبیق شی. ټول غړی باید په مسلسل ډول فهرست او محتویاتو مطابق انعکاس وکړی.

**کافی مونډیال د څه لپاره:**

د کافی مونډیال مقصد دادی چی د مختلفو کلتورونو خلک سره راغونډ کړی او په یوه سترګه سره یو بل ته وګوری.
کافی مونډیال غواړی چی خلک یو بل سره وپیژنی، اصلیت، د ژوند تاریخچه، تشویق، او پوهه د یو بل وپیژنی. د کافی مونډیال لوی وړاندیز په جامعه کی باالقوه مثبت پرمختګ دی. داخلی فردی تماس په خاص ډول د بیګانه وو د کلتورونو سره د تعصب د مقابلی د کومک لپاره. د کافی مونډیال مقصد د هنر او کلتور لپاره ځای پیدا کول، انځور جوړول، یو ځای سندری ویل او ګډا کول.
کافی مونډیال غواړی چی د پوهنی او معلوماتو لپاره ځای پیدا کړی چی د کومو استعدادونو تبادله ممکن ده. او همکاری د نورو ګروپونو سره.
کافی مونډیال غواړی چی د ارتباط لپاره یو ځای ایجاد کړی چی چرته صحی مشوره او لارښونه تبادله او ښودل کیږی.
زه به د سوالونو ځوابونو حمایه کوم کوم چی روزمره ضرورتونه وی، د استخدام ضرورتونه، اداری او کاغذی کارکردګی، د پناهندګي طرزالعمل او لار او داسی نور.
د موجوده ګروپونو ځایونه د مشورو او نظرونو د تبادله کولو د ځای په صفت پیشنهاد کوی.

**پیژندنه او ارزښت د کافی مونډیال:**

کافی مونډیال کوم خاص مذهب عقیدی او جهان بینی نه مروج کوی: شخصی مشخصات لکه جنسیت، عمر. مذهبی او غیر مذهبی ټولو ته ښه راغلاست وایو. کافی مونډیال خوشاله ده چی د ټولنی سره کار کوی چی د مذهبونو او عقایدو

خلک سره یو ځای کړی او هغوی ددی منشور د اصولو مطابق د ارزښتونو ښکارندوی وکړی. په هیڅ صورت تبعیض د منلو وړ نه دی.
کافی مونډیال په سیاسی ډول تړلی نه ده او نظریاتی ډول ازاده ده. کافی مونډیال د سیاسی خلکو او ګروپونو سره کار خوښوی او علاقه لری، مګر اجازه نه ورکوی چی د سیاسی هدفونو لپاره د یو الی په توګه تری ګټه واخستل شی.
کافی مونډیال یو دیموکراتیکه فضا رامنځ ته کوی او دا په ټولو ګډونوالو پوری اړه لری. خو دا په دی معنی نه ده چی هر یو دی ټول وخت ګډون وکړی . دا هر یو شخص ته یوه موقع ورکوی چی د تصمیم نیولو په پروسه کی اشتراک وکړی.
کافی مونډیال ټول خلک د برابرښت اصل ته رانږدی کوی. کافی مونډیال خلکو ته د ګټی د تولید له نظره نه ګوری. کافی مونډیال د چا کمزوری او غلطی ته توجه نه کوی، لاکن د نورو استعدادونو او لیاقت ته توجه کوی. په کافی مونډیال کی ټول برخه وال یو ځای کار او ژوند کوی. په بل ډول د Tadamon Egtema د اصل مطابق مثلاه ( عربی: ژوند د هرچا لپاره).

**کافی مونډیال مختلف او بیل بیل**: کافی مونډیال د مختلفو کلتورونو او د ژوند د مختلفو ابعادو نماینده ګی کوی، د ژوند مختلف تاریخچه، هر جنسیت واله هر عمر واله. ټول یو شان حقوق لری او یو برابر شریک کار کوی.

**کافی مونډیال بهادره ده:** کافی مونډیال د تماس څخه نه ویریږی، نوی شیان تیاروی، موانع د غلطی او خطا په حیث نه درک کیږی، لاکن د یادولو لپاره موقع ده.

**کافی مونډیال خپلکاری (خود به خود) او سازګار دی**: دا د نوو نظرونو او تغیراتو لپاره خلاص او تیار دی.

**کافی مونډیال مستقله او ازاده ده**: دا په چا پوری منحصره نه ده، دا د کومی ډلی ، مذهب عقیدی او نظری او یا داسی نورو لخوا نه کنترولیږی.

کافی مونډیال مخترع ده او غواړی او خوښوی یی چی نوی لاره پیدا کړی او پخوانی او مغلوب شوی لاره پریږدی.

**د کافی مونډیال وظیفی:**

کافی مونډیال غواړی چی ژوند تنفس وکړی د ( کلتور ستړمشی او ښه راغلاست) په اصطلاح، او مطمن شی چی مهاجرت د یو غنی سازی په حیث درک کړی، او ټولنه تشویق کړی چی د یو بالقوه تنوع په صفت یی وپیژنی.

کافی مونډیال ټولنی ته متعهد ده په کوم اساس چی هر یو نفر یو شان فرصت لری چی پرمختګ وکړی او برخه واخلی.

کافی مونډیال شخصی مسؤلیتونو ته ، فعال برخه والو ته، انګیرنه د ټولنیز مسؤلیتونو ته ترفیع او ترقی ورکوی.
کافی مونډیال غواړی چی د یو نمونی په توګه کار وکړی تر څو نورو ابتکارونو ته یو مشوره او الهام ورکړی کوم چی په نورو ښارونو کی ددی په شان پروژو ملاتړ کوی.

کافی :ارتباط، تصادف، برخورد-ننوتل، احساس، ستړمشی، رسیدل

د ملاقات ځای، د وړاندیزونو مجموعه، د مختلفو ګروپونو ځایونه او اطاقونه شریکول دکلتوری نظریو لپاره.

د پوهی او علم تبادله، مشوره ، تریننګ، معلومات، مرسته او ملاتړ

